مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۲/۰۹/۰۱

لنډۍ او چارۍ

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

یوسلوپنځه شپېتمه برخه

خلک په مینه کې کلچې خوري
ما د لیلا د لاس بېلچې خوړلې دینه

ظالمه ټول ځان مې خوړېږي
لور دې انګړ کې په بېلچو وهلی یمه

سم کښېناستی نه شمه موري
پر کوناټو مې د بېلچې شوي وارونه

داسې لیدل کېږي چې په افغان میډیا کې د «بېلچې» بازار ښه تود دی. په پښتو ژبه کې (بېلچې» ته چارۍ ویل کېږي. (وګورئ: مشوانی زاهد، پښتو ـ پښتو سیند، دریم چاپ، د افغانستان د علومو اکاډیمی د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، ۹۰۰۹ م کال، ۳۲۷ ام مخ)

په دې لنډو تېرو ورځو کې له یوې ځوانې افغان مېرمنې سره د شوي زور زیاتي خبر، د مډیا لومړی خبر وګرځید او رنګارنګ کامنتونه، نظریات او رپوټونه ورباندې ولیکل شول او خپاره شول.

د موضوع د څرنګوالي په باب میډیا خپل معلومات خپاره کړي دي او د رامنځته شوې ستونزې د طرفینو د سلامت او ملامت په باب هم قضاوت نه کوم؛ خو دومره یادونه کوم چې یاده موضوع د بربېښنا په چټکوالي خپره شوه او د افغانانو تر څنګ نړیوال هم پرې خبر شول.

همدا موضوع په ډېرې چټکۍ سره د لنډیو قالب ته هم ورولوېده او ځینو ښاغلو یا اغلو داسې لنډۍ تخلیق کړې چې د یادې ستونزې په فزیکي کشکړې کې د کارول شویو وسایلو یادونه په کې شوې ده. ویل کېږي د ښځینه لورې له خپل ځان نه د دفاع په پار «بېلچه» یا چارۍ کارولې ده، او همدا د «بېلچې» یا «چارۍ» د کارولو موضوع سمدلاسه د لنډیو په اینه کې راښکاره شوې ده.

اصلي خبره دا ده چې د لنډیو له نظره د ټولنیز ژوند هېڅ برخه پټه شې نه پاتې کېدای، بلکې د ټولنیز ژوند په هره برخه باندې یې نظر وي او هغه په خپله پراخه او ښکلې لمن کې رانغاړي، هنري رنګ ورکوي او خوندي کوي یې.

د نویو لنډیو د ټولولو او خوندي کولو په لړ کې مې، په یادې ستونزې پورې اړوند هغومره لنډۍ چې اورېدلې او یا د میډیا په بېلابېلو برخو کې لیدلې دي، هغه مې رټولې کړې او خوندي کړې دي، دلته به یې تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کړم:

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

خلک په مینه کې کلچې خوري
ما د لیلا د لاس بېلچې خوړلې دینه

د کوناټو تاوان مې راکړه
زه دې ناحق په کوناټو وهلی یمه

ښه ده چې ژر دې پېښې کړې سپکې
ما د بېلچې په وار منلی زندانونه

ما خو دې سر ته وه نیولې
ماغزه دې سم و چې دې شا راواړوله

ظالمه ټول ځان مې خوړېږي
لور دې انګړ کې په بېلچو وهلی یمه

سم کښېناستی نه شمه موري
پر کوناټو مې د بېلچې شوي وارونه

بېلچه په لاس درپسې ګرځم
د کونډې زویه، له مردې دې خلاصومه

د نورو خلکو څه بیلچې وي
بېلچې د ښځو کوناټي پرې نرموینه

یو وار پرې بل وکړه زړورې
چې د بېلچې یادګار یې زړه کې پاتې شینه

بېلچه په لاس ورته ولاړه
که ورنږدې شي، کوناټي به غوړوینه

د بېلچې وار ته به ټینګېږې
بې له بېلچې نه د یار نه شته وصلتونه

د بېلچې وار ګوره رانکړې
له ملا نه خلاص یم بیا به وکړې ارمانونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ